**د متحده ایالاتو مرکزي قوماندانۍ بیان د منبج د طرحې په اړه :**

**۲۸ غبرګولی ۱۳۹۷:** د منبج دطرحې او امنیتي اصولو سره سم د ترکیه او ایتلافي ځواکونو خپلواک او همغږه شوي ګزمې د غبرګولی په ۲۸ مه ۱۳۹۷ د نښه شوي کرښې د منبج شمال ته پیل شوي. دواړه خواوي پلان لرې چې دغو ګډو ګزمو ته دوام ورکړي او دوي ژمن دي چې دغه همغږي ګزمې د حالاتو او شرایطو پر بنسټ ډیري کړي. دغه همغږي ګزمې د منبج د اوږد محال امنیت، ثبات او د امریکا د متحده ایالاتو د ناټومتحد ترکیې سره د ژمنتیا یوه برخه ده. په منبج کې د امنیت او ثبات ټینګښت د سوریې په ختیځ کې د داعش د روان عملیاتود چټک دوام لپاره ډیر اړین دي.